
لیکوال : افتخار الله افتخار
بې کوره پیغله
لنډه کیسه
Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کتاب پېژندنه

---

**نوم بې کوره پيغله / لنډه کيسه**

**ليکوال افتخارالله افتخار**

**ايډيټ ا.ر افتخار**

**کمپوز ا.ر افتخار**

**پښتی ډ.ن ا.ر افتخار**

**بيا کتنه واجد منګل**

**تاريخ 19.09.2023**

**واتساف 00989908400450**

https://t.me/Aftekharullah_Aftekhar

**په خپل نوم د خپرولو حق هيڅوک نه لري حقوق له ليکوال سره خوندي دي**

زما نشرې شوي کيسې

١ رنډی / لنډه کيسه

٢ سپيڅلي ښځه / لنډه کيسه

٣ ماته منظوره ده / لنډه کيسه

۴ د ښځې خور سره / لنډه کيسه

۵ بې کوره پيغله / همدا اثر

**إن شاء الله دا لړی به جارې ساتم ستاسې د مينې او پښتنو ته د سمو لارښوونو لپاره زه به هميشه قلم د خير لپاره پورته کوم...**

**قلم تـــه ځای افتخار زړه کې ورکه**

**دايره يې کور کې له ټوپکه تاؤ کړه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ډالۍ

(( خپل ګران کشر ورور جمال ناصر شيرخان ته ))

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د رواجونو ښکار شوې

هاغه پيغلې چې د ميني او رواجونو ښکار شوې دي، حقيقت دا دی چې دوی ژوند په اوږه بار ګرځوي. پښتو او غيرت ورته په خوله د شهادت ګوته نېغه ايښې. که غږ يې وويست، يا شرم دی، يا مرګ. خو دا د پښتون قانون دی. ګني اسلام حق ورکړی چې د خپلې خوښې نکاح تر لاسه کړي.

کيسه به يوه پيغله له ډيرو کنډوکپرو تېره کړي خو بيا هم... د ژوند په مزل کې هر قدم بايد ډېر په سوچ او فکر اوچت کړو. هسې نه چې سبا هره پيغله د صدرا غوندې بې کوره شي او دا يواځينی قدم دی چې نهه نوي فيصده له خطر سره مخ دی خو زه تنها ګناهګاره صدرا نه بولم، دلته د همت غوندې ځوان هم بې همتي کړې. د پلار غوندې شان د لور په سر پيسې اخلي. د خاوند غوندې مرتبه په کلي کې د سړيتوب نوم نه لري او د ورور په شان قوت د خور...

له کيسې مې يو هدف نه دی چې تاسې يې تر لاسه کړئ. دلته راغلي ياست نو کيسه دقيق ولولئ! که کومه کمي په نظر درغله، نېغه يې را په ګوته کړئ! او که څه مثبت نظرونه لرئ، هم نغد را وغږيږئ.

بې کوره پيغله نوم مې ځکه خوښ کړ چې زه زيات له داسې پيښو سره مخ شوی يم خو تر شا يې يوه وجه نه وي نو ځکه مې د همدې عنوان لاندې، پاڼې له زرينو کرښو ډکې او ستاسې مخې ته مې راوړې. ياده کيسه مې صرف په دوه مازيګرو کې پای ته رسولې. سره د ډيرو مصروفياتونو، اوس به ته فکر کوې چې افتخار لږ زيات ونه غږيده. سمه ده! همدلته قلم ږدم خو زه زيات نه يم غږيدلی...

دا ته محترم او دا بې کوره پيغله.

ستاسې خوږ ورور

افتخار الله افتخار

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورستۍ جوړه جامې يې په تناب واړولې، لامده لاسونه يې خپلې لوپټې کې تاو کړل، بېرته راغله، لګن يې د لرګي زينې سره د کوټې ديوال ته سرچپه تکيه کړ. چالاکه کوټې ته ننوته، بېرته يې شا ته وکتل، د کورنۍ غړي يې په داسې حال کې نه و چې دې کوټې ته دې راشي.

تيزه لاړه د شمشي بيټرۍ نه يې موبايل له چارجره راواخيست، د زوړ صندوق خواته يې په پخواني بالښت ډډه وهله، پښې يې په نرۍ توشک وغزولې، د موبايل ډيټا يې خلاص کړه، سيده واټساف ته لاړه. سترګې يې خلاصې پاتې شوې:

ـ افففف دومره مسجې(پيغامونه)! اوهو هيمته! ته خو سم ليونی يې.

د همت صفحې ته ننونه. د پيغامونو لوستل يې پيل کړل:

ـ زه د نورو هلکانو غوندې نه يم. وګوره کال برابرېږي ما تاسره دوکه کړې؟

ـ بس زما همدا وروستۍ پرېکړه ده. که په رښتيا مينه راسره لرې، نو نن ماښام ته راوځه، زه دې د سرک په سر انتظار کوم.

ـ او که را ونه وتې، نو ته ما سره هسې وخت تېروې. مينه نه کوې راسره. زه درته له سره تېر يم او ته مې کيسه کې نه يې...

داسې يې پرله پسې څو پيغامونه ولوستل، د صفحې بره سر ته يې وکتل، د همت واټساف انلاين و.

بيرته يې وليکل ورته:

ـ ګرانه! قسم دی چې مينه درسره لرم. ته ولې په ما شک کوې؟ ها؟

له هغې خوا سمدستي وايس(غږيز پيغام) راغی:

ـ که دې مينه کوله، دا دې يوه مياشت کيږي چې درته وايم را ووځه. نور مې راپورې ملګري خاندي. وايي ساعتيري کوي درسره! ته هيڅ په ما غيرت نه کوې، مينه کې هر څه جايز دي خو داسې ښکاري چې ملګري مې رښتيا وايي. زه بايد نوره خودکشي وکړم، ځکه ته ما سره وفا نه کوې.

د خبرو په ورستۍ پړاو کې لږ جذباتي شو.

دې خبرو يې د صدرا مړه احساسات په خوځښت راوستل، تيره هفته ورياده شوه؛ چې د تنور سر پيغلو ملګرو يې خنداګاني ورپورې کولې. پيغور يې ورکاوه چې پلار دې سګوان ته ورکړې يې. د مازيګر نه ونيسه تر نيمې شپې پورې په کلي کې سپي جنګوي. سترګو کې يې اوښکې ډنډ شوې،

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاوخوا يې نظر تېر کړ، د سکرین په لاندې برخه يې بره ګوته کش کړه، په غږیز پیغام کې يې ورته وویل:

_ سمه ده ګرانه! غوسه کېږه مه! مړه دې ستا دښمنان شي. خو دا راته ووایه چې ستا کورنۍ به ما ومني او که نه؟

همت يې غږیز پیغام ته د ښکلولو سټیکر(د احساس څرګندولو نښه) ورکړه، غږیز پیغام ورته راغی:

ـ واه! واه! واه! قربان دې شم صدرو! تا خو زه وګټلم. هیڅکله مې يقین نه کیده چې ته دې مینه کې دومره قربانۍ ورکړې... او کورنۍ سره مې غږیدلی یم. هغوی مشکل نه لري. اوس راته وخت ښایه! کله ما لپاره خپل کور پرېږدې؟

صدرا په کیبورډ(لیکمن) باندې ګوتې کېښودې خو لړزې نیولې وې:

ـ سبا ماښام زمونږ د کلي نه وړاندې، د پاخه سرک سره نږدې پایې ته راشه. دلته ډېر څوک نه وي.

له دې ورسته دواړو سره ساعت – نیم ګپ شف ولږو. که څه خولې په صدرا روانې وې، د همت په ډاډ وچې شوې...

وخت د هیڅا انتظار نه کاوه. که پوهه يې لرله، ګټه يې ترې اخیسته او که ناپوهه و، ساعت يې تیروه. خو ګټونکي ساعتيري نه دي.

وخت همدا چغه وهله خو پښتون پرې غوږ کوڼ کړی و!

لمر د ځمکې په اخیر کې سر ښکته کړ، تیارې را خپرې شوې خو لمر د پښتون غوندې نا امیده نه و. وخت يې ونیو خو سهار يې بیا سر را اوچت کړ. دنیا ته يې ځان وښود. که ولویدم، سبا بیا پورته کېږم. همدا پیغام لمر ټولې نړۍ ته ورکاوه خو پښتون بیا بیلچه په اوږه کړه. په زوی يې غږ وکړ: نن ښوونځي ته مه ځه! د دیرې د لښتیو پولې را وریبه! خلک پکې غواګاني څري. ور يې بند کړ، له کوره ووت...

صدرا په منډه لور او د وښو څادر يې ورور ته راوړ:

ـ د پلار خبره منه وروره.

ورور يې وویل: نه! زه مختب(مکتب) ته ځم ګني ناکام به شم.

مور يې ورغږ کړ:

_ ځه پولې را وریبه. مالیم (معلم) صیب ته به دې ډوډۍ وکړو، کامیاب به دې کړي!

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې خبرې په اوريدو يې لور او ځادر د صدرا له لاسه واخيستل او په خندا له کوره ووت.

صدرا جارو را واخيسته، ټول انګړ يې پاک کړ. نيمګړي پاتې کارونه يې د کور تمام کړل. د هر کار کولو ورسته يې ځان موبايل ته رساوه. همت ورته ويلي و چې سر له مازيګره راوځه. زه دې په طمعه ناست يم. خو دې ورسره دومره زر نه منله. ويل يې چې لږه تياره شي او د ماښام جمعې ته خلک روان شي، بيا ميدان خالي کيږي. هله...!

صدرا ځان پوره امده کړ. آن هاغه لارې يې هم صافې کړې چې د تګ په وخت يې ورته مخه نيوله... هوښياره جينۍ وه خو بې ځايه ميني پښه وښويوله.

خو همدې يې فکر خراب کړی چې پلار مې د ځو پيسو لپاره ولې زه داسې هلک ته کينولم چې ټول کلي کې د سګوانۍ نوم لري...؟

د وخت په تيريدو سره انتظار پای ته ورسيد. د ماښام اذانونو فضا ونيوله. پلار يې جماعت ته روان شو. صدرا شکر په دې ادا کولو چې مشر ورور يې ښار کې کار کاوه. مور ته يې د اودس لپاره لوټه ډکه کړه او نور يې ځان جوړ کړ. کوچنی ورور يې چې مازيګر د لوبو لپاره تللی و، بيا نه و راغلی. نو دا ورته تر ټولو ښه موقع ښکاريده. مور يې په لمانځه ودريده.

خپله يې تور حجاب، په بله کوټه کې له ځانه تاو کړ، موبايل کې يې همت ته پيغام پريښود:

ـ بس دا دی درغلمه! چې کوم ځای مې درته ښودلی، همهلته ولاړ اوسه.

هغه يې پيغام ته په جواب کې وويل:

ـ له ځه وخته ولاړ يم، ته صرف را ووځه.

د صدرا مخ ګرم شو، رنګ يې تغير وخوړ، د زړه زربان يې خپله اوريدل. د کور له دروازي يې شاته وکتل، قدم يې بهر کړ، مخ يې ترې وګرځاوه، چابکه روانه شوه.

کوڅه کې يو – نيم کس غلي غلي ورکتل خو د چا هم خيال نه کيده چې ځه روان دي؟ بېرته به خپل کار پسې روان و.

شل دقيقې يې پياده لار ووهله، اخېر د همت ځنګ ته ورسيده.

همت د صدرا په ليدو يې، له پښو ساه ورکه شوه، د ولاړ موټرسايکل په توله يې لاس کيښود، له خولې يې په هيجاني حالت کې ووتل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ ته په رښتيا راغلې؟؟

صدرا ساه واخيسته:

ـ هو! خو بايد دلته په طمعه نشو. څه چې څو. باقي خبرې به په لاره کو. زه ډيره ويريږمه همته!

همت په دواړو لاسونو سر ونيو، ځای په ځای، لکه د بې سوره وچورليد:

ـ اوهو ته ليونۍ يې ها؟ زه تا چرته يوسمه ها؟ وګوره فکر کوم ساه رانه وځي. په ما څه چل کيږي. د بدن يو غړی مې په واک کې نه دی. دا خو دومره وړه خبره نه ده. شاوخوا يې وکتل څوک نه و.

د صدرا له سترګو اوښکو حرکت پيل کړ:

ـ دا ته څه وايې؟ زه خو ستا په مشوره راغلې يمه. تا ويل کور کې مشکل نشته او...

همت يې خبره ونيوله:

ـ هې بس که د ليونۍ لورې! ما خو ګف ګڼله. دا تيښته ولاکه دومره وړه خبره وي او زما يقين هم نه کيده چې ته دې داسې کم اصل کار وکړې.

صدرا د څپيړې لپاره لاس پورته کړ:

همت وويريد. لکه په ټوپک يې چې ولې. شاته شو، بيا يې ورته لاسونه جوړه کړه:

ـ خير دی همته! دا وخت زه ډېره مجبوره يمه. زه تا نه هيڅ نه غواړم. صرف له ځان سره مې بوځه او ومې ساته. بس همدومره.

همت لاسونه څنډل، سوچ يې وکه خو کامياب نشو:

ـ ګوره صدرو! زه ملامت يم، منم خو نه راسره تا کور کې مني او نه دا سپک او بې لارې کار. زه درنه ځمه. ته واپس کور ته لاړه شه. اوس هم وخت نه دی تللی.

صدرا ورته ډير مايوسه مايوسه کتل:

ـ همته زه ګاونډيانو او خپلوانو کره هم بې اجازته نه يم تللې. بيا خو دا ډير لوی کار دی. ما بې مرګه نه قبولې. خير دې ما له ځان سره بوځه.

همت له جيب نه کيلياني راوويستې، د موټرسايکل خواته روان شو:

ـ زه دې له ځان سره نشم بولی. دا دې زه درنه لاړم چې په بله لانجه وانه وړم. عمومي سرک دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



موټرسايکل يې چالان که.

صدرا ورمنډه کړه، پښې يې ونيولې، زارۍ يې ورته وکړې خو هغه يريدلی و. دا هر څه ورته ټوکې ښکاريدې خو داسې نه وه، پوره خطر وه.

ګېر يې ورکه، په ضرب د څو ثانيو کې له سترګو پناه شو.

دې ډيرې اوښکې توی کړې. د ژوند په ميدان، په مخکې او ورسته تګ ناکامه ودريده، له ډيرې تنهايې او ژړا ورسته يې فکر وکړ.

که واپس کور ته ځم، ژوندۍ مې نه پرېږدي. پلار مې دهکان سړی دی. تربوران به ورته وايي؛ په ډيران يې ښخه کړه. دا به د غيرت په جزبو هماغه کار کوي چې څوک څه وايي ورته، او بيا خو د سګوان خاوند نه هم د سړيتوب طمعه نشته...

په درۍ لارې کې ولاړه وه. يوه لار ښکته، بله پورته، يوه کلي ته تللې وه. پورته يې لس شل قدمه واخيستل. هلته يې موبايل چالان د سرک په غاړه کيښود.

حرکت يې په لاندې لار پيل کړ. که اوس راپسې څوک راشي نو فکر به کوي چې پورته تللې او موبايل ترې دلته لويدلی. هغوی به په دې دليل ټول بره لاړ شي. ګوندې کوم کلي ته تللې. نور مې هسې هم ژوند ابو واخيست...

قدم يې د ښار په طرف کوږ کړ خو د سرک نه ډېر لرې فاصله کې، چې کوم کليوال موټروان يې ونه ګوري، زر او سل فکرونه يې ذهن نيول خو يو هم ښه نتيجه نه ورکوله. په کړي کار دومره پښيمانه وه چې حد يې نه و.

پنځه – شپږ ساعته مزل ورسته يې د ښار رڼاګانې، له نيږدې وليدې. شاوخوا يې نظر تېر کړ، څه نه ښکاريدل. له کوچنيو تيږو په ډکه ځمکه يې سر کيښود. ستړيا، ويرې او بې خوبۍ يې ډيره زر د خوب نړۍ ته يوړه.

خو ويرونکی خوب يې وليده. د يوې چغې سره نېغه را پورته شوه. شاته يې وکتل، لمر سترګکونه وهل. بيرته يې د ښار په طرف مخ کړ، شونډې يې د ژړا له لاسه نرۍ نرۍ کيدې. فضا يې له خولې يوه ټپه واوريده.

**د سحر لمر پر غرو را جګ شو**

**ژونده اوږو ته مې را خېژه چې دې وړمه**

ويستلی حجاب يې په ځان بيرته برابر کړ، قدم وهنه يې پيل کړه. ساعت – نيم پس ښار ته داخله شوه. حيرانه وه چې کوم خوا لاړه شي؟ څه وکړي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



شين سهار وه. ګڼه ګوڼه هم کمه ښکاريده. د يو دوکان مخې ته، د لارې په سر کيناسته، سترګې يې بره نه پورته کولې چې څوک پکې اوښکې ونه ګوري. ناڅاپه يې مخې ته يو لسګون ولويد، زړه يې درزا شروع کړه، وويريده، خپل کور ور ياد شو. زړه يې وه چې په چغو چغو وژاړي خو ځای مناسب نه وه. لړزې اخيستی لاس يې لسګون خواته حرکت وکړ چې بل لسګون پرې را پرېوت. زر يې بيرته شاته کړ.

تر څنګ، لږه فاصله کې، يو څو ځوانانو د ريړې واله نه وريجې خوړلې. د هغوی غږ يې تر غوږ شو

ـ وګوره حجاب يې نوی دی. سوالګره نه ده. بل کار ته راوتې!

ـ ههههه نه! نه! سوالګره ده، ګني دلته نه کيناسته.

درېيم ځوان وريجې وخوړې، کتابونه يې له ريړې راپورته کړل، دوی ته يې جواب کې وويل:

ـ چې نېک ګمان نشی کولاۍ، نو شک هم مه کوۍ! او مه ورسره کار لرۍ. دا د ژوند اصول نه دي.

پيسې يې وريجو واله ته ورکړې، روان شو. دواړو ځوانانو سترګې ښکته کړې.

صدرا پيسې را واخيستې، له ځايه پورته شوه، زړه کې يې وويل:

ـ د څومره ډېرو انسانانو منځ کې دا ځناور څوک نه پيژني، ځکه چې لباس يې د انسان دی خو دننه مکمل وحشي دي...

فکر يې وکړ چې د سوال نه بهتره لار نشته خو حجاب مې نوی دی او مخې ته شپه را روانه ده. چرته به ځم؟ د ښار په يوه بله کوڅه ور دننه شوه، ځکه دلته انسانان وو خو لږ کم په نظر راتله. د کوڅې کونج کې يې يو نانوايي واله دوکان وليد، تيزه ورغله، ډوډۍ يې ترې را واخيسته خو ښه و، هغوی څه ونه ويل. شاوخوا يې کتل، په يو کوچني سوالګر يې نظر پرېوات، تر څنګ ورغله، نيمه ډوډۍ يې ورکړه، سر يې ور ښکته کړ ورته يې وويل:

ـ د ورځې څو پيدا کوې؟

هغې له ډوډۍ کپ تاو کړ:

ـ سل، يو نيم سل، دوه سوه همداسې...

ـ او شپه چرته کوې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ خپل کور کې. نور چرته!

صدرا نيغه جټکه وخوړه، کوچنی يې له څنګ تير شو، له ځان سره يې وويل:

ـ څومره بختور دی! خپل کور لري که سوالګر هم دی، بايد شکر وباسي. زما غونډې خو بې کوره نه دي.

نيمه ډوډۍ يې موټې کې تاوه کړه. وږې وه، خو زړه يې نه کېده.

تر مازيګره در په دره وګرځېده. يو څو روپۍ يې هم لاسته راوړې وې خو له دې ښار يې نوره کرکه کېده. په هرو لسو کسان کې يې اته کسه د هوس تږي و.

د ښار له ګڼې ګونې لږه لرې شوه. دلته اکثره کوڅې خالي خالي ښکاريدې. نور يې په پښو کې هم دمه نه وه. ټوله ورځ يې حجاب کې پټ مخ، ځوروله. زړه يې پکې تنګ وه خو مخ يې نشو ښکاره کولای. د لويې ناولې وياله په سر په نيم متر پوخ ديوال کيناسته، فکر واخيسته، د بل انسان شتون يې حس کړ، ناڅاپه يې له ويرې لړزه وخوړه، سترګې يې پورته کړې.

تر څنګ ولاړ ځوان د هوس په انداز وويل:

ـ له ډير وخته درته ګورم. راځه ماسره اتاق کې يو څو ملګري دي. ښې پيسې به هم درکړو.

صدرا يې په ليدو حيرانه ودريده، له پښو يې ساه وخته. همداسې يې سترګو ته ورته ځير ځير کتل...

ځوان بيا وويل:

ـ لکه چې ستا هم زړه دی. د هرې ويرې بې غمه اوسه. دوه ملګري راسره دي. ستا چې څنګه زړه وي، هماغسې به کو.

د صدرا له سترګو دومره اوښکې، هاغه وخت نه وې لويدلې چې همت پريښوده. لکه دلته، دا ليدل ورته خوب ښکاريده. همداسې يې څيرې ته ورته ليدل.

په ځوان شيطان غلبه وکړه، يو دم يې جينۍ له لاسه ونيوله.

صدرا لاس ته وکتل، بيرته د نظر پورته کولو سره يې لاس هم پورته شو او دومره دروند يې د ځوان مخ ته راواچو چې په ټول ژوند کې به دا څپيړه هيره نه کړي.

هغې يې لاس خوشې کړه، شاوخوا يې وکتل، سر يې ښکته کړ، روان شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



صدرا دواړه لاسونه مخته ونيول او ښه په چغو چغو يې وژړل. کاش! چې پلار وژلې وای خو دې حالت سره نه وی مخ.

لاندې يې وکتل. د وياله غاړې نه يې لوټه راواخيسته، همدې نيم متري ديوال ته د پښو په څوکو مخامخ کيناسته. لوټه يې د ديوال په مخ کيښوده، له سترګو يې اوښکې ولويدې، لوټې ته يې حرکت ورکړ، ويې ليکل:

ـ دا هاغه سپيڅلی ښار دی چې يو ورور پکې د خپلې خور نه د زنا طلب وکړ.

او دا بيا هاغه ځوان دی، که خبر شو چې خور يې تښتيدلې يا به خودکشي کوي او يا به ليونی کيږي. څه عجيب تمثيلونه دا پښتانه کوي!

پاتې لوټه يې په موټې کې خاورې کړه، نيغه پورته شوه. همت ته يې زړه کې ښې ښيراوې وکړې. نور يې د ژړا له لاسه ستونې درد کاوه. په لويه کوڅه کې يې تنها قدم وهل پيل کړ.

فکر يې بل خوا لاړ، چې پلار مې ولې تر اوسه ورور نه دی خبر کړی؟ ايا د دې په خاطر چې کلي کې اوازه خپره نشي...؟ ای هی پلاره! ستا لور خو، ته ټول قام او کلي ته ټيټ راوستې. ما ولې ځان وژنه ونه کړه...؟

همداسې سرګردانه روانه وه. له کوڅې، د ښار ګڼې ګوڼې ته داخله شوه. مازيګر لمونځ په قضا کيدو وو. د سرک په منځ يې يوه ښځه د درې ماشومانو سره وليده. شاوخوا يې نظر تير کړ بيا نيغه د سوالګرې تر څنګ ورغله، خوا کې يې د پښو په سر ورته کيناسته:

ـ تروري ته د شپې چرته ځې؟

خيرنې ښځې ماشوم ته پکې وواهه، مخ يې تاو کړ:

ـ کور ته ځم نور چرته لاړ شو؟

صدرا زړه کې خوشحاله شوه چې ځای خو مې پيدا کړ. بيا يې ترې پوښتنه وکړه:

ـ تروري! زه د شپې ځای نه لرم. ما خپل کور ته له ځان سره بوځې؟

خيرنې يو دم لاسي پکې په ځمکه کيښود. په دواړو لاسونو يې خبرې شروع کړي:

ـ ته په ما رشخند وهې؟ ته دې لباس ته وګوره! سمه ناوې ښکارې. ځه پاسه تنګوه مو مه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



صدرا يې دواړه لاسونه ونيول، قسمونه يې ورته وکړل چې ځای نه لرم. خپله ټوله کیسه يې ورته تېره کړه، خيرنې ښځې سمدستي خپل څادر راټول که، دوه ماشومان يې خپله راوخيست او يو يې دې ته ورکړ، ورته يې وويل:

- چې داسې ده راځه چې خپل کور ته دې بوځم.

ښځه خوشحاله ښکاريده خو دا مخکې او صدرا ورپسې. له ښار په څنډ په ډيرو ډيرانونو، دپاسه د يو کيمپ کوڅې ته ننوتل. د کوڅې سره نږدې يې دروازه ووهله. يو پوخ عمر سړی چې غټه باډي يې لرله، ور خلاص کړ.

خيرنې ښځې ورته وويل:

- اخوا شه لار پرېږده غټ سريه!

سړي د صدرا په ليدو ژبه په شونډو کې تاوه کړه. يو څلور قدمه پس خيرنې ښځې، ماشومان په انګړ کې له لاسه خوی خوشې کړل. هغوی له ځمکې سره ولړېدل. چغې يې کړې.

صدرا يې دې کړو ته حيرانه شوه. خپل غېږ کې يې ماشوم ته وکتل، بيا يې غږ تر غوږ شو:

- شموکۍ راشه! دا ناولي دې سمبال کړه. له کوټې نه دوه پخې پيغلې راووتې داسې ښکاريدې له په ټول ژوند کې يې چې خندا نه وي کړي، رامنډه يې کړه. يوې د صدرا له غېږ ماشوم واخيست او بلې له ځمکې دوه پورته کړل.

دواړه د ماشومانو په ښکلولو شروع وکړه. بيرته په منډه کوټو ننوتې.

صدرا د لوی انګړ منځ کې، حيرانه ولاړه وه. خيرنې ښځې په صدرا غږ کړل:

- هې جينۍ! دلته دننه راشه.

غږ سره يې په نه زړه کوټې ته دننه شوه. ګوري چې بل د عمره پوخ سړی، چې تازه يې په ګيره کې سپين راغلي وو، کټ کې ناست دی او خيرنه ښځه د ديوال خواته لباس بدلوي. صدرا چې دا حالت وليده، سترګې يې غټې غټې راووتې. بېرته په منډه په وتو شوه چې سړي پرې غږ کړل:

- بهر مه وځه!

ځای په ځای ودريده

خيرنې ښځې ورته مخ راتاو کړ. په داسې حال کې چې پرتوګاښ يې غوټه کاوه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ جینۍ دا خپل کور وګڼه او هر څه خوره سکه(څکه). سرف (صرف) شپه په دغه کټ کې کوه. اشاره یې د سړي خواته وکړه.

سړی رانېغ شو، په صدرا رپ ولړېد، تر څنګ یې راغی، حجاب یې ورته له مخ لرې کړ.

یو دم خندا ونیو، شاه یې ورته راواړله.

صدرا فکر وکړ چې اوبو اخیستی، هر څه ته لاس اچوي. لکه چې ژوند مې د ځناورو په کور شو او اوس له پیښې تیښته نشته، نه راسره بله لاره. ماته خو قدم په قدم نوی غم همت راکړ. الله دې خوشحالۍ پسې ړوند کړه! او پلاره! که تا چرته پیسو ته نه وي کتلي نو د سړي زوی ته به دې ورکړې وای...

سړي بیرته مخ راتاؤ کړ:

ـ جینۍ! له ننه پس، ته د دې کور مالکه یې.

خیرنې ښځې خوله خبرې ته جوړوله چې ده پرې غږ کړ:

ـ خاموش!

هغې نه کړې خبره، هیره شوه. بېرته یو – دوه قدمه شاته لاړه.

صدرا یې له ولو ونیوله، تر ډبل بیټ یې بوتله، یوه شیبه ولاړ و. بیا یې د ناستې ورته وویل، هغه کیناسته.

سړي ډېر په طبعیت خبرې شروع کړې.

ـ جینۍ! دلته چې څوک وینې، له دې ټولو ستا غوندې لار ورکه وه. دلته په امن خلک نه راځي، نو زه ډاډه یم چې لار درنه ورکه ده. تر ماښام به نور ماشومانو او جونې هم راشي. تقریباً لس پنځلسو ته رسیږي. دا زمونږ کاروبار دی، خو ته زړه مه خوره. تا بهر سوال کولو ته نه لیږم. ته ماسره همدلته پاتې کیږه. صرف زما زړه ساته او د دې سوالګرو حساب، هر یو چې پیسې کمې راوړلې، هم یې مور ته سزا ورکو، هم یې بچو ته. نو دوی ناکام دي چې ښار کې د خلکو پښو ته ولویږي، تېښته هم نشي کولای. ټول مې دم کړي، او نه چاته حال ویلی شي. اوس دا ووایه! ته خو کومه ستونزه نه لرې؟

صدرا لکه د بوت خاموشه ناسته وه.

بیا یې پرې په اوچت اواز غږ وکړ:

ـ ته خو به کومه ستونزه نه لرې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



صدرا جټکه وخوړه، د نه په معنی یې سر په چټکۍ سره وخوځاوه. بیا یې ورته په ولي لاس وټاپاوه:

ـ ښه دا خو راته ووایه چې ته څوک یې؟

د صدرا شونډې وخوځیدې :

ـ یوه بې کوره پیغله!!!

سړی مخ، خیرنې ښځې ته تاو کړ، په اشاره یې ورته وویل: ـ بهر ووځه او ور هم ځان پسې بنده کړه!

خیرنه ښځه راووته، ور یې بند کړ. ورستۍ غږ یې له کوټې واورید:

ـ څه نو حجاب لرې کړه ته به هم سترې یې چې لږه دمه واخلو.

پای

ایران/ تهران شهریار

## مینه مننه او درنښت

په ټوله شوشل میډیا مې په لاندې ادرس پیدا کولای شئ

Aftekharullah Aftekhar

https://www.facebook.com/aftekharullah.jan?mibextid=ZbWKwL

(c) ketabton.com: The Digital Library





(c) ketabton.com: The Digital Library

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**